# د قرآن تاثِیر

15-March-2024

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

په 15 مارچ کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د قرآن تاثِیر

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د قرآن په نورو کتابونو باندې فضیلت
- ...د ټول ژوند د پاره زبردست نصیحت
- ... د شرابي ځلمي په لږ وخت کښې اِصلاح اوشوه
- ... په تعویذ او تَمائِم کښې فرق

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback:***+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت ابو حَفص کاغذي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير لوئي سردار وو، د هغوئي د وفات نه پس چا هغوئي په خوب کښې اوليدلو او پوښتنه يـې ترې اوکړه: **الله** پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائيله؟ جواب يـې ورکړو: **الله** پاک په ما رحم اوکړو، زه يـې اوبخښلم او جَنَّت يـې راته عطا کړو. خوب ليدونکي پوښتنه اوکړه: په څه وجه؟ اويـې فرمائيل: د **الله** پاک په بارګاه کښې زما حاضِري اوشوه، زما حساب واخستلے شو، فرښتو ته حُکم اوشو: د ده ګناهونه اوشميرئ! فرښتو ګناهونه اوشميرل. بيا حکم اوشو: ده چې په دُنيا کښې زمونږ په خوږ حبيب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کوم درود شريف لوستلے دے، هغه اوشميرئ! فرښتو زما لوستلے درود شريف اوشميرلو. **بس زما لوستلے درود شريف زما د ګناهونو نه زيات اوختلو. نو الله پاک اوفرمائيل: بَس! اے فرښتو کافي دے. د ده نور حساب مه کوئ! دا زمونږه جنَّت ته بوځئ...!** (1)

قُربِ خُدا ہو حاصِل جنت میں ہو وہ داخل | جس نے لکھا پڑھا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد
جانے بھی دے اِرم کو رِضوان نہ روک ہم کو | سینے پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ...القولُ البدِيع، صفحه: 124۔

جنت مقام ہو گا دوزخ حرام ہو گا | گر دل پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ښه نيت بنده جنت ته رسوي، د بيان اوريدو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به تړول بيان اورم ❀عِلمِ دِين به زده کووم ❀ په اَدب به کښينم ❀ نصيحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبٰی، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاک نوم اوريدو به درودِ پاک لولم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قرآنِ کريم تاثير

حضرت جُبَير بن مُطعِم رَضِىَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے. هغوئ د فتح مکے نه مخکښې اِسلام قبول کړے وو. په مدينه منوره کښې به اوسيدو، هم هلته وفات شو. (2)

هغوئ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د خپل اِسلام قبلولو واقعه بيانوي او فرمائي: په غزوهٔ بَدر کښې چې کوم مسلمانان قيد شوي وو، زه (د مکے والؤ د طرف نه) د هغه قيديانو په باره کښې د خبرو اترو کولو د پاره مدينے منورې ته راغلم. چې کله دلته را اورسيدم نو د ماښام وخت وو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماښام د نـمونځ جَمعه ورکوله، د هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آواز مبارک د جومات نه بهر هُم راتللو، هغوئ د سورۂ وَالطُّوْر

---

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

2...مرآۃ المناجیح، ترجمہ اکمال، حالات صحابہ، 8/13۔

تِلاوت اوفرمائيلو، ما هم د قرآنِ کريم تِلاوت اوريدو (ژبهٔ مبارکه د خدائے د محبوب وه، کلام د رَبِّ رحمان وو، بس بيا څه وو، داسې خوږ آواز، داسې د اثر نه ډک کلام زما زړهٔ ته کوزيدل شروع شو). هغه وخت هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا آيتونه اولوستل:

| | |
|---|---|
| اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۙ﴿۷﴾ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ﴿۸﴾ (پاره:27، وَالطُّوْرِ:87) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: بيشکه ستا د رب عذاب ضرور واقع کيدونکے دے (۷) هغې لره هيڅ څوک لرې کوونکے نشته (۸) |

دا آيتونه چې مې واوريدل نو زما زړهٔ داسې شو لکه چې اوس به اوچوي. ما ته داسې لګيده چې زه به د دې ځائے نه قدم هم اوچت نه کړے شم، د دې نه مخکښې به په ما باندې عذاب نازل شي. بس زه د اللّٰه پاک د عذاب نه اُووِيريدم او هم هغه وخت مې ايمان راوړو. (1)

| | |
|---|---|
| آں کِتَابِ زِنْدہ قرآنِ حَکِیم | حِکْمَتِ اُو لایَزَال اَست وَ قَدِیم |

مفهوم: دا قرآنِ مجيد ژوندے کتاب دے، په دې کښې بيان کړے شوي تعليمات، تر قيامته پورې د ټولو مسئلو د حل کولو د پاره کافي هم دي او بهتر هم دي.

## د قرآنِ کريم يو څو خصوصيات

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! قرآنِ کريم د اللّٰه پاک کلام دے، په دې کښې عجيبه اثر دے ✿ دا خوږ کلام زړونه نرموي ✿ بے لارې شوو ته د هدايت لار ښائي ✿ په دې کښې د تيرو شوو او راروانو خبرونه دي ✿ دا د اللّٰه پاک مضبوطه رسۍ ده ✿ دا د حکمت والا کلام دے ✿ په حديثِ پاک کښې دي: د قرآنِ کريم په برکت سره خواهشونه ختميږي ✿ د قرآنِ کريم عجائبات نه ختميږي ✿ څوک چې د قرآنِ کريم مطابق خبره اوکړي، هغه رښتونے

---

[1]... صراط الجنان، پاره:27، سورهٔ طور، زيرِ آيت:8، جلد:9، صفحه:518، 519۔

دے ❁ چا چې په قرآنِ کريم باندې عمل اوکړو، هغه به ثواب مومي، څوک چې د قرآنِ کريم مطابق فيصله اوکړي، هغه به انصاف کوونکے وي او ❁ څوک چې د قرآنِ کريم په لور راوبلي، ضرور به هغه د نيغې لارې په لور رابلونکے وي. (1)

هر روز میں قرآن پڑھوں کاش! خُدایا | اللہ! تِلاوت میں مرے دِل کو لگادے

## د قرآنِ کريم په نورو کتابونو باندې فضيلت

د **اللّٰه** پاک آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لکه څنګه چې **اللّٰه** پاک د خپل ټول مخلوق نه افضل دے، هم داسې د **اللّٰه** پاک کلام هم د باقي ټولو کلامونو نه افضل او اعلیٰ دے. (2)

هر روز میں قرآن پڑھوں کاش! خُدایا

اللہ! تِلاوت میں مرے دِل کو لگادے

## په قرآنِ کريم او نورو کتابونو کښې فرق

يو غير مسلمه وو: **نَضَر بن حَارِث**. د مکے مکرمې اوسيدونکے وو. يو ځل دے د تجارت د پاره شام ملک وغيره ته لاړو نو د هلته نه يې د قيصو کتابونه راوړل. مکے مکرمې ته چې راغے نو خلقو ته به يې قيصې بيانولې او دې بدبخته به وئيل: مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) هم تاسو ته د (قومِ) عَاد او (قومِ) ثَمُود واقعې بيانوي نو زه تاسو ته د رُستم، اِسفِنديار (د ايران د بادشاهانو) وغيره قيصې بيانووم.

يعنې دې بدبخته هغه دروغ ربنتيا قيصې د قرآنِ کريم برابر اوګرځولې. د ده په

---

1...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء فی فضل القرآن، صفحہ:675، حدیث:2906۔

2...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، صفحہ:679، حدیث:2926۔

مذمت [غندنه] کښې د یو وِیشتمې سیپارې، سورۂ لُقمان دا آیت نازل شو.

اوس دلته اوګورئ! ❀ د دروغو د قیصو کتابونه، ناول، ډائجسټ وغیره دلته هم لوستلے کیږي، خلق په ډیر شوق سره داسې کتابونه لولي، د سورۂ لُقمان په وړومبو آیتونو کښې د **نَضَر بن حارِث** د هغه قیصو په کتابونو او قرآنِ کریم کښې فرق واضحه کړے شو. د **نَضَر بن حارِث** په غندنه کښې **اللّٰه** پاک اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ یَّشْتَرِیْ لَهْوَ الْحَدِیْثِ لِیُضِلَّ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِغَیْرِ عِلْمٍ ﴿ۖ﴾ وَّ یَتَّخِذَهَا هُزُوًا ؕ (پارہ:21، لقمان:6) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او بعضې خلق د لوبیدلو خبرې [په بیعه] اخلي د پاره د دې چې بے پوهې د **اللّٰه** د لارې نه بے لارې کول اوکړي او د هغې نه توقې ټقالې جوړې کړي. |

یعنې **نَضَر بن حارِث** چې د قیصو کوم کتابونه ګرځوي، په دې کښې ډیرې خرابۍ دي. **(1):** وړومبۍ خرابي خو دا ده چې **لَهوَالْحدیث** (یعنې بے مقصده قیصې او د لوبو ټوقو خبرې) دي **(2):** دویمه خرابي دا ده چې د دې لوستونکي اوریدونکي د **اللّٰه** پاک د لارې نه یعنې د نیکۍ د لارې نه لرې کیږي.

د دې په مقابله کښې د قرآنِ کریم څه شان دے؟ **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| الٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰیٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِیْمِ ﴿۲﴾ هُدًى وَّ رَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِیْنَ ﴿۳﴾ (پارہ:21، لقمان:آیت 1،2،3) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: الٓمّٓ (۱) دا د حکمت والا کتاب آیتونه دي (۲) د نیکانو د پاره هدایت او رحمت دي (۳) |

دا د قرآنِ کریم درې شانونه دي:

## (1): قرآنِ کریم د حِکمت کتاب دے

وړومبے شان خو یـې دا دے چې قرآن‌کریم د حکمت کتاب دے، د ❀ناوِل ❀ډائجسټ ❀د دروغو د قیصو ❀او فضولو قیصو لوستو سره انسان نفسیاتي مریض

جوړېږي، خو د قرآنِ کریم دا شان دے چې ❁ د دې د لوستلو سره ❁ د دې د تلاوت کولو سره حکمت او پوهه نصیب کېږي.

## د ټول ژوند د پاره زبردست نصیحت

د حضرت زید بن اَسلَم رضی الله عنه نه روایت دے، یو ځل یو ګس په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو، زمونږه آقا، سَیِّدُ الانبیا صلّی الله علیه واٰله وسلّم یو صحابي رضی الله عنه ته اوفرمائیل: دې (نوي راغلي ګس) ته قرآنِ کریم اوښایه...! هغه صحابي رضی الله عنه هغه ګس ته سورۂ زِلزال ښودلو، چې کله هغوئې د سورۂ زِلزال اووم آیت اوښودلو نو هغه ګس اووئیل: بَس! زما د پاره کافي دي. هغه صحابي رضی الله عنه په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: یا رسول الله صلّی الله علیه واٰله وسلّم ! ده اوس صرف 7 آیتونه زده کړي دي او وائي: زما د پاره کافي دي. خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی الله علیه واٰله وسلّم اوفرمائیل: دے **پرېږده! ده ته فَقَاهَت (یعنې د دِین پوهه) میلاو شوې ده.** (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د قرآنِ مجید شان--!! چې صرف اووه آیتونه یې اولوستل او د هُم دې نه ورته فَقَاهَت (یعني پوهه) نصیب شوه.

## (2-3): قرآنِ کریم د رحمت او هدایت کتاب دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! (2): د سورۂ لقمان په آیتونو کښې د قرآنِ کریم دویم خاصیت دا بیان شو چې **قرآنِ کریم د رحمت کتاب دے.** د ناول ډائجسټ وغیره په لوستلو نیکۍ نه میلاوېږي، په انسان رحمت نه نازلیږي خو قرآنِ کریم هغه عظیم کتاب دے، چې د دې په یو یو حرف باندې لس، لس نیکۍ میلاوېږي، چې کله بنده قرآنِ پاک لولي

[1] ... تفسیر دُرِّ منثور، پارہ:30، سورۂ زلزال، جلد:8، صفحہ:596۔

نو د **اللّٰه** پاک رحمتونه په هغه باندې راورېږي. **(3):** او د دې پاک کلام **دریم خاصیت** دا بیان کړے شو چې **قرآنِ کريم د هدايت کتاب دے.** دا د تجربې خبره ده، کوم بنده چې د ❁ناول ❁ ډائجسټ ❁ او د دروغو د قيصو لوستو عادت شي، هغه نفسياتي مريض شي ❁هغه په خيالي دنيا کښې اوسيږي ❁ په معاشره کښې خپل مثبت کردار نه ادا کوي ❁ د هغه په طبيعت کښې بد خوئي راشي او د هغه په مقابله کښې هغه بنده څوک چې د قرآنِ کريم د تلاوت عادت وي، که بغير د پوهيدو نه هم د قرآنِ کريم تلاوت کوي ❁ د هغه زړۀ نرميږي ❁ په زړۀ کښې يې د نيکئ جذبې راپيدا کيږي ❁ د هغه په اخلاقو او کردار کښې مثبت بدلون راځي ❁ د هغه د ظاهر او باطن پاکي نصيب کيږي ❁ او هغه د معاشرې يو بهترين ګس جوړيږي. او که په قرآنِ کريم پوهيږي او تلاوت يې کوي، نو بيا خو واه...!! سُبْحٰنَ اللّٰه! ...!! د داسې خوش قِسمته خو څانګړے شان دے.

## د ګنهګار د توبې توفيق نصيب شو

حضرت ابو هَاشم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل زه بصرې ته د تللو د پاره په کشتئ کښې کښيناستم. په دغه کشتئ کښې يو نارينه وو او د هغه سره د هغه وينزه وه. چې مونږه لږ وړاندې لاړو نو هغه نارينه وينزې ته اووئيل: شراب راوړه! هغې شراب راوړل، نارينه څښل او وينزې سندره شروع کړه. بيا هغه ګس ما ته اوکتل او اوئې وئيل: آيا ستا سره د دې (سندرې) په شان څه شته؟ ما اووئيل: آؤ! زما سره هُغه څه دي کوم چې د دې نه زيات بهتر او ښه دي. هغه اووئيل: اووايه! ما دا آيتونه تلاوت کړل:

| | |
|---|---|
| اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿۱﴾ وَ اِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ ﴿۲﴾ وَ اِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ﴿۳﴾ (پاره:30، التکوير:1،3) | [مفهوم]ترجمۀ کنزُالعِرفان: چې کله به لمر راغونډ [راټول] کړے شي(۱) او چې کله ستورې را اورژيږي(۲) او چې کله غرونه رَوَان کړے شي(۳) |

دا آيتونه يې چې واوريدل نو هغه ګس په ژړا شو، چې کله زه د **اللّٰه** پاک دې

فرمان ته راورسيدم:

| | |
|---|---|
| وَ اِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿۱۰﴾ (پاره:30، التكوير:10) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او چې کله به اعمالنامې سپړدلے کيږي (۱۰) |

نو هغه اووئيل: اے وينزې! زه تا د **الله** پاک د رضا د پاره آزادووم، دا شراب توئي کړه!. بيا هغه زه د ځان خوا ته اوبللم او اوئې وئيل: زما وروره! تهٔ څه وائې؟ آيا **الله** پاک به زما توبه قبوله کړي؟ ما په جواب کښې دا آيت اولوستو:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَ يُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿۲۲۲﴾ (پاره:2، البقرة:222) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بيشکه **الله** د ډيرې توبې کوونکو سره محبت فرمائي او ډير صفا سُتهره اوسيدونکي خوښوي (۲۲۲) |

(دا يې چې واوريدل نو هغه توبه اوکړه). [1]

| | |
|---|---|
| محبّت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی! |
| رہوں مَست وبے خُود میں تیری وِلا میں | پِلا جَام ایسا پِلا یاالٰہی! |
| بنادے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گناہوں سے ہر دَم بچا یاالٰہی! |
| عِبادت میں گُزرے مری زندگانی | کَرم ہو کَرم یاخدا! یاالٰہی! [2] |

سُبْحٰنَ الله! دا د قرآنِ کريم اثر دے...!! دا پاک کتاب د هدايت کتاب دے، کوم خوش قِسمته چې دا اولولي، په دې باندې په رښتوني زړهٔ سره د پوهيدو کوشش اوکړي، د هغه د پاره د هدايت دروازې برسيره شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...درة الناصحين، المجلس الخامس و الخمسون فى فضيلة التوبة، صفحہ:206۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:105 ملتقطاً۔

# د قرآنِ کريم تاثيرونه

غرض دا چې د **اللّٰه** پاک کلام دے، د دې صرف يو اثر نه دے، مختلف اثرات يې دي، د قرآنِ کريم ډير نومونه دي او دا نومونه هم د دې د مختلفو اثراتو په لحاظ سره دي. مثلاً ❀ د قرآنِ کريم يو نوم **حکمت** دے، يعني دا هغه کتاب دے چې د دې د لوستلو سره حکمت او پوهه نصيب کيږي. ❀ د قرآنِ کريم يو نوم **صِراط مُستقيم** دے، يعني دا هغه کتاب دے کوم چې بے لارې شوي د نيغې لارې مسافر جوړوي ❀ د قرآنِ کريم يو نوم **نُور** دے، يعني دا هغه عظيم کتاب دے کوم چې نُور تقسيموي او زړونه روښانه کوي.

## کور به يې د شمعې په شان ځليدو

يو صحابئ رسول دے: حضرت ثَابِت بن قَيس رضی اللہ عنہ. د شپې به د هغوئي کور داسې ځليدو لکه څنګه چې شمع بَليږي (ظاهره ده په هغه وخت کښې د لائټ او بجلئ انتظام خو نه وو، د شپې به تيارۀ وه خو د حضرت ثَابِت بن قَيس رضی اللہ عنہ کور مبارک به د شپې ځليدو) خلقو د آقا کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د دې خبرې ذِکر اوکړو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ثَابِت بن قَيس به ضرور د شپې د **سورۂ بقره** تلاوت کوي. د حضرت ثَابِت بن قَيس رضی اللہ عنہ نه چې کله په دې باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئي اووئيل: آؤ! واقعي زه د شپې د **سورۂ بقره** تلاوت کووم. [1]

چھوڑو یہ ظلمتوں کے شِکوے کرو نہ ہر دَم | ہے روشنی کی خواہش، قرآن پڑھ کے دیکھو

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې قرآنِ کريم نُور دے. د دې په لوستلو، د دې په تلاوت کولو زړونه هم روښانه کيږي او چې **اللّٰه** پاک اوغواړي نو ظاهري نُور هم نصيب کيږي.

---

1... فضائل القرآن للمستغفری، صفحہ:200، حدیث:708۔

# قرآنِ کريم د زړهٔ مرضونه لرې کوي

الله پاک په قرآنِ کريم کښې اوفرمائيل:

يَاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ (پاره:11، يُونس:57)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: اے خلقو! تاسو لره ستاسو د رب له طرفه نصيحت او د زړونو شِفا [راغله].

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ د دې آيت لاندې فرمائي: قرآنِ کريم د رَبّ تعالٰی د طرف نه د بندګانو د روحاني پالنې ذريعه ده، د زړهٔ ټولې بيمارئ لکه ❀جهالت ❀شک ❀شرک ❀نفاق ❀او بده عقيده ❀بد اخلاق ❀حسد ❀کينه ❀هوس ❀د دُنيا حِرص ❀دښمني وغيره. قرآنِ کريم د دې ټولو اِصلاح کوي. [1]

| | |
|---|---|
| میرے ربّ کا کلام ہے قُرآں | واہ کیا بات پیارے قُرآں کی |
| ہر مسلماں کا اس پہ ہے ایماں | واہ کیا بات پیارے قُرآں کی |
| مصطفٰے پر ہوا ہے یہ نازِل | اس میں ہر شے کا ہے بیاں شامل |
| سب سے افضل کتاب ہے قُرآں | واہ کیا بات پیارے قُرآں کی |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د شرابي ځلمي په لږ وخت کښې اِصلاح اوشوه

علّامه ابن جَوزي رحمۃ اللہ علیہ ليکي: يو عبادت کوونکے، نيک بزرګ وو، هغه تر خلويښتو کالو پورې (د بر اعظم افريقې د يو ملک) سوډان په يو غار کښې اوسيدو او عبادت يې کولو. هغه فرمائي: يو ځل زه په غار کښې دننه په عبادت کښې مشغول

1... تفسیر نعیمی، پارہ:11، سورۂ یونس، زیرِ آیت:57، جلد:11، صفحہ:367، 368 ملخصًا۔

ووم، په دې کښې یو ګس راغے، د هغه سره خوراک او شراب وو، (شاید هغه زه نه ووم لیدلے) او په یو کوټ کښې کښیناستو او خوراک یې شروع کړو، د خوراک نه پس چې کله هغه د شرابو لوښے راواخستو نو ما په تیز آواز د قرآنِ کریم دا آیت اولوستو:

| | |
|---|---|
| اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ (پاره:27، الحدید:16) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آیا د ایمان والؤ د پاره لا هغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه د **اللّٰه** د یاد او د هغه حق د پاره ټیټ شي. |

هغه ځلمي اخوا دیخوا اوکتل، څوک یې اونه لیدو، هغه ځان ناغرضه کړو او شراب څښل یې شروع کړل، څنګه چې هغه لوښے راواخستو ما بیا هم هغه آیت تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ (پاره:27، الحدید:16) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آیا د ایمان والؤ د پاره لا هغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه د **اللّٰه** د یاد او د هغه حق د پاره ټیټ شي. |

په دې ځل خو د قرآنِ کریم دې الفاظو د هغه په زړهٔ باندې پوره اثر اوکړو، د هغه د لاس نه شراب پریوتل، هغه په زوره اووئیل: بَلٰی وَاللّٰهِ قَدْ آنَ ولې نه، په خدائے مې دې قسم وي! هغه وخت راغلے دے (چې زما زړهٔ د **رَبّ** په یاد کښې ټیټ شي). دا یې اووئیل او هغه د غار نه بهر ووتو، زه هم په هغه پسې شاته شاته روان شوم، اومې لیدل چې هغه ژړل او روان وو او په تیز آواز یې هم دا وئیل: بَلٰی وَاللّٰهِ قَدْ آنَ ولې نه، په خدائے مې دې قسم وي! هغه (یعنې د توبې) وخت راغلے دے. بزرګ فرمائي: زه هم په هغه پسې شاته شاته روان ووم. چې لږ مزل مو اوکړو نو مخکښې یو غټ تالاب وو، د **اللّٰه** پاک د ویرې د غلبې نه هغه ځلمي هم داسې په تالاب کښې قدم کیښودو (خو د **اللّٰه** پاک قدرت وو چې) هغه د اوبو د پاسه روان وو او په آرام پرې تیر شو. (1)

---

1...روح الارواح، الفصل الثانی عشر، صفحه:79 بتغیر قلیل۔

بوقتِ نزع سلامت رہے مرا ایماں | مجھے نصیب ہو توبہ ہے التجا یا ربّ

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د قرآنِ کريم دا خومره د کمال اثر دے. هغه څلمے ګنهګار وو، شرابي وو خو په هغه باندې د **الله** پاک کرم اوشو، هغه چې ځنګه د قرآنِ کريم آيت واوريدو نو د زړۀ دُنيا يــې بدله شوه، د هغه صرف د توبې توفيق نصيب نه شو بلکې د **الله** پاک کرم ته اوګورئ! هغه د اوبو د پاسه تير شو او په هغه هيڅ هم اونه شو.

تُو گُناہوں کو کر مُعاف اللہ! | میری مقبول مَعذِرت فرما
مصطفٰے کا وَسیلہ توبہ پر | تُو عنایت مُداوَمت فرما (1)

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قرآنِ کريم شِفا ده

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! قرآنِ کريم چې ځنګه د روحاني مرضونو د پاره شِفا ده، هم داسې د ظاهري بيمارو د پاره هم بهترين عِلاج دے. **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ ﴿پاره:15، بنی اسرائيل:82﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مونږه په قرآن کښې هغه څيز نازلوو کوم چې د ايمان والؤ د پاره شفاء او رحمت دے. |

حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائيلي دي: قرآنِ کريم د هر مرض نه نجات ورکوونکے دے. (2)

## بهترينه دوائي قرآنِ کريم

د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خَيْرُ الدَّوَاءِ الْقُرْاٰنُ

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:75۔

[2] ...الحديقة الندية، الباب الاول...الخ، الفصل الاول...الخ، النوع الاول...الخ، جلد:1، صفحه:156۔

یعنې بهترینه دوائي قرآنِ کریم دے. [1]

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دَمَوَل کول

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په معمولاتو کښې هم دي او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہ عَنْھُم، د لويو اوليائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْھِم او تقريباً د څوارلس نيمو سوؤ کالو نه د اُمَّت په مُجَرَّباتو (تجربه شوو کارونو) کښې دي چې د قرآن آيتونه اولوستلے شي او [مريض پرې] دَم کړے شي نو **اللّٰه** پاک شِفا ورعطا کوي. د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللّٰہ عَنْھا فرمائي: د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په کور والؤ کښې چې به کله څوک بيمار شو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به مُعَوَّذَات (يعنې سورهٔ الفلق او سورهٔ الناس) لوستل او هغه به يې پرې دَمولو. [2]

## صحابئ رسول دَم کړو

❁ يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ د لړم په چيچولو باندې **سورهٔ فاتحه** اولوستله او دَم يې کړو، **اللّٰه** پاک هغه [ګس] ته شفا عطا کړه. [3] ❁ د يو صحابي رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ په قبيله کښې يو ليونے ګس وو، کوم چې به خلقو په زنځيرونو تړلو، صحابي رسول رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ تر دريو ورځو پورې سحر او ماښام درې درې کرته **سورهٔ فاتحه** اولوستله او دَم يې کړو، **اللّٰه** پاک هغه ليوني ته شِفا عطا کړه. [4]

## فارُوقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ تعويذ ورکړو

د قيصرِ رُوم (يعنې د رُوم بادشاه) د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ

---

1 ...ابن ماجه، کتاب الطب، باب الاستشفاء بالقرآن، صفحه:567، حديث:3501۔

2 ...مسلم، کتاب السلام، باب رقية المريض...الخ، صفحه:866، حديث:2192۔

3 ...بخاری، کتاب الطب، باب الرقی بفاتحة الکتاب، صفحه:1450، حديث:5736 ملخصًا۔

4 ...ابو داوٗد، کتاب الطب، باب کيف الرقی، صفحه:613، حديث:3696، 3697 خلاصةً۔

اعظم رضی اللہ عنہ ته خط اوليکو چې زما په سر باندې تهول عمر درد وي، که ستاسو سره د دې څه دوائي وي نو را اوئې ليږئ! حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ هغه له يوه ټوپۍ اوليږله. قيصر رُوم به چې کله هغه ټوپۍ په سر کوله نو د هغه د سر درد به ختميدو او چې کله به يـې د سر نه لرې کوله نو بيا به يـې په سر واپس درد راتلو، هغه ډير حيران شو، آخر يـې هغه ټوپۍ اوشلوله نو په هغې کښې ورته يو کاغذ ميلاو شو چې په هغې باندې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ليکلي وو. (1)

## نيکانو خلقو به هم دَمَوَل کول

امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ ته يو کَس د خپلې سترګې د بيمارۍ شِکايت اوکړو نو هغوئي هغه ته بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم سره د سورۂ قٓ آيت نمبر:22 فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿۲۲﴾ او د حٰمٓ اَلسَّجْدَة آيت نمبر:44 لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ اوليکلو او ورعطا يـې کړو. د دې په برکت هغه ته د بيمارۍ نه شِفا نصيب شوه. (2)

## په تَعوِيذاتو کښې برکت دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د بيمارو نه شِفاء حاصلولو دپاره تعويذ اچول او د دې نه فائده اخستل بالکل جائز ده. بعض روايات دي چې په هغو کښې د تَمائم نه منع راغلې ده بعضې خلقو ته په دغه رواياتونو لوستلو کښې مغالطه شوې ده. په اصل کښې تعويذ يو خيز دے او تَمائِم بل خيز دے. د جاهليت په زمانه کښې به کافرو د خپلو دروغو د خُدايانو نومونه او شرکيه الفاظ وغيره ليکل او په غاړو کښې به يـې اچول او په مختلفو طريقو به يـې استعمالول هغې ته به يـې تمائم وئيلو. او تَعوِيذ هغه وي په کومو کښې

---

1... تفسیر کبیر، الباب الحادی عشر فی بعض النکت...الخ، جلد:1، صفحہ:155۔

2... البرہان للزرکشی، النوع السابع والعشرون معرفۃ خواصہ، جز:1، جلد:1، صفحہ:285۔

چې د قرآن آیتونه، د اللّٰه پاکیزه نومونه او د هغې شمیر او دعاګانې وغیره لیکلې وي.[1] څکه تَمائِم اچول یا په هره طریقه استعمالول بالکل منع دي خو تعویذونه استعمالول جائز او مستحب او برکتي هُم دي. [2]

## د شِفا د آیتونو لوستلو ترغیب

د اِمام قُشَیري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب کښې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو نو خوږ آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ولې پریشانه یې؟ ما عرض اوکړو: زما څوي بیمار دے، د هغه حالت نازک دے. ارشاد یې اوفرمائیلو: د شِفا د آیتونو نه ستا پام چرته دے؟ (چې رابیدار شو نو) هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شِفا آیتونه درې ځله اولوستل او په خپل بچي باندې یې شُف کړل د دې په برکت د هغه شِفا نصیب شوه. [3]

نعمتیں برکتیں بفضلِ ربّ | رحمتیں راحتیں شفائیں سب
اس سے پاتے ہیں صاحبِ ایماں | واہ کیا بات پیارے قرآں کی

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د شِفا آیتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د شِفا د آیتونو د کومو چې په دې واقعه کښې ذِکر اوشو، هغه دا دي:

---

[1] ...لَمْعَاتُ التَّنْقِيح، كتاب اللباس، باب الخاتم، جلد:7، صفحه:390، زیرِ حدیث:4397 بتصرف۔
[2] ...مرقاة المفاتیح، کتاب الطب والرقی، جلد:8، صفحه:375، زیرِ حدیث:4554۔
[3] ...البرهان للزرکشی، النوع السابع والعشرون معرفة خواصه، جز:1، جلد:1، صفحه:285، 286۔

(1): سورۂ توبہ آیت :14 وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٤﴾

(2):سورۂیونس آیت:57 وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾

(3):سورۂنحل آیت:69 فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٦٩﴾

(4):سورۂبنی اسرائیل آیت:82 وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ

وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾

(5):سورۂشعراء آیت:80 وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾

(6):سورۂحٰمٓ اَلسَّجْدَة آیت:44 قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قرآنِ پاک د هر يو سُورت خپل فضيلت، حاصيت او شان دے کوم چې د ځان او مال حفاظت کولو، د غم او پريشانئ ختمولو او د زړۀ خوشحالولو او د مرض نه د نجات ورکولو د پاره کافي دي.

| | |
|---|---|
| شوق دے دے مجھے عِبادت کا | ذِکر و اَذکار کا تِلاوت کا |
| اَز پئے غوث و خواجہ اے رحماں | واہ کیا بات پیارے قرآں کی |

## د قرآنِ کريم د مختلفو سورتونو تاثير

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! قرآنِ کريم چې د کوم اړخ نه هم اولولې، د دې ډير برکتونه دي، البته علمائے کرامو د حديثونو مبارکو په رڼا کښې او د خپلې تجربې مطابق د قرآن د سُورتونو بيل بيل اثرات هم بيان کړي دي، راځئ! د اوريدو سعادت يې حاصلوو: ✿ سُوْرَةُ الفاتحه چې 100 کرته اولوستلے شي او کومه دُعا اوغوښتلے شي، هغه قبليږي: ✿ د سُوْرَةُ البقرہ د تلاوت کولو سره شيطان د کور نه تښتي ✿ د آيةُ الكرسي لوستلو سره مُحتاجي لرې کيږي ✿ د سُوْرَةُ الكهف هميشه لوستونکے به د

دَجّال د فِتنو نه محفوظ اوسي ❀ د مور پلار قبر ته د هرې جُمعې په ورځ د سُورۂ یٰسٓ تِلاوت کولو سره د حرفونو د شمیرې برابر، د هغه (لوستونکي) ګناهونه بخښلے کیږي ❀ د سُورَۃُالدّخان لوستلو سره مشکل لرې کیږي ❀ د چا چې ځنکدن وي چې هغه په سُورَۃُالجاثِیَه باندې دم کړې نو د هغه خاتمه به په خیر سره اوشي ❀ د سُورَۃُالحُجرات لوستل او دَمَوَل او څښل کور کښې د خیر او برکت د پاره فائده مند دي ❀ د سورۂ قٓ لوستلو سره په باغ کښې میوه زیاتیږي ❀ د سُورَۃُالرحمٰن یوولس کرته لوستلو سره ټول مقصدونه پوره کیږي ❀ څوک چې سُورَۃُالواقِعَه هره ورځ لولي، په هغه به چرې هم لوږه نه راځي ❀ سُورَۃُالمُلك هره شپه لوستونکے به د قبر د عذاب نه محفوظ وي ❀ د سُورَۃُالمُزَّمِّل یوولس کرته لوستونکي هر مشکل آسانیږي ❀ څوک چې سُورَۃُالمُدَّثِّر اولولي او د قرآنِ پاک د حفظ کولو دعا اوکړي نو د هغه د پاره به د قرآنِ کریم یادول آسانیږي ❀ د سُوْرَۃُالنّٰزِعٰت لوستلو سره به د ځنکدن تکلیف نه کیږي ❀ د سُورَۃُالضُّحیٰ لوستلو سره به تښتیدلے ګس واپس راشي ❀ سُورَۃُاَلَم نَشرَح چې په کوم مال باندې اولوستلے شي، په هغې کښې به ښه برکت کیږي ❀ د سُورَۃُالتِّین درې کرته لوستلو سره اَخلاق او کردار ښه کیږي ❀ په سُورَۃُالعَلق کښې د جوړونو د درد عِلاج دے ❀ څوک چې سُورَۃُالقَدر سحر او ماښام لولي الله پاک به د هغه عزت زیات کړي ❀ سُورَۃُ البَیِّنَه د برګي او یرقان [د زیړي د مرض] علاج دے ❀ سُورَۃُالزّلزال د قرآنِ پاک د څلورمې حصې برابر دے ❀ کوم انسان یا ځناور چې د نظره شوے وي، هغه په سُورَۃُالعٰدِیٰت باندې دمول فائده ورکوي ❀ د سُورَۃُالقارِعَه د لوستلو سره د بلاګانو نه حفاظت کیږي ❀ د سُورَۃُالتَّکاثُر د درې سوه کرته لوستلو سره زر قرض ادا کیږي ❀ د سُورَۃُالعَصر د لوستلو سره غم لرې کیږي ❀ سُورَۃُالهُمَزَه او سُورَۃُالفِیل د دښمن د شر نه د حفاظت او سورۂ قُریش د ځان د حفاظت د پاره مجرب دے ❀ سُورَۃُالماعُون د غټ مشکل په وخت لوستل فائده مند دے ❀ د سُورَۃُالکَوثَر د تلاوت سره د بے اولاده، اولاد نصیب کیږي

❁ سُوۡرَۃُالکافِرون د قرآنِ پاک د څلورمې حصې برابر دے ❁ سُوۡرَۃُالاِخلاص د قرآن د دريمې حصې برابر دے، د دې ډېر فضيلتونه دي ❁ د سُوۡرَۃُالفَلَق او سُوۡرَۃُالنَّاس سره د پيريانو او شيطانانو او حسد کوونکو د شر نه حفاظت کيږي. [1] ❁ د مريض په خوا کښې د سورۀ مُجادله لوستلو سره د درد نه آرام نصيب کيږي. [2] ❁ د سورۀ لَیل لوستلو سره د مِرګو مريض په غوږ کښې د دَمولو سره فائده کيږي. [3] ❁ سورۀ رَحمٰن ليکل او [په اوبو يا پئيو کښې] څښل د توري په مرض کښې فائده ورکوي. [4]

| | |
|---|---|
| نعمتیں برکتیں بفضلِ رب | رحمتیں راحتیں شفائیں سب |
| اس سے پاتے ہیں صاحبِ ایماں | واہ کیا بات پیارے قرآں کی |

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!     صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د شُعبه روحاني علاج تعارف

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي د مجلس مکتوبات و تعويذات عطاريه د لاندې د غم زپلو مسلمانانو د امير اهلسنت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د عطا کړې شوو اَورادو او وظائفو او تعويذونو په ذريعه فی سبيل الله علاج کولے شي، د اِستِخَارې کولو سلسله هم ده، هره ورځ ترينه په زرګونو مسلمانان فائده اخلي. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن په نوم ( ***Online Rohani Ilaj & Istikhara***) هم لانچ کړے دے ❁ د کوم په ذريعه چې آن لائن

---

1...جنتی زیور، صفحہ:587-605ملتقطاً۔
2...الدرالنظیم، صفحہ:102۔
3...الدرالنظیم، صفحہ:106۔
4...الدرالنظیم، صفحہ:102۔

***Online*** تعویذونه ترلاسه کیدے شي او د آن لائن ***Online*** اِستخارې کولو سهولت هم شته ✿ نور دا چې د روزانه لوستلو آسانې وظیفې پکښې شاملې دي ✿ د پریشانو او مشکلاتو نه د نجات حاصلولو د پاره خلویښت روحاني علاجونه ✿ د **الله** پاک د بعضې صفاتي نومونو نه حاصلیدونکې برکتونه ✿ د بیمارئ نه د شِفا موندلو وظیفه وغیره په دې اپیلي کیشن کښې شامل دي. تاسو هم دا اپیلي کیشن په خپل موبائل کښې ډاؤن لوډ کړئ، پخپله ترینه هُم فائده حاصله کړئ. او نورو ته هُم ترغیب ورکړئ!

## د تلاوت کولو عادت جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! رَمَضَانُ المُبَارَک د برکتونو والا میاشت جاري ده په دې کښې د نیکو کولو ثواب 70 چنده زیات وي، په دې کښې که چا د قرآنِ کریم تلاوت اوکړو نو څومره ښه خبره ده په عامو ورځو کښې چې د قرآنِ کریم یو لفظ اولولې نو لس نیکئ میلاویږي او په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د دې ثواب زیاتیږي. کاش چې مونږه د قرآنِ کریم تلاوت خپل معمول جوړ کړو، د روایتونو مطابق ✿ د قرآنِ کریم تلاوت افضل عبادت دے. [(1)] ✿ د قرآنِ کریم په یو لفظ لوستلو باندې د لسو نیکو ثواب میلاویږي. [(2)] ✿ د قرآن کریم د تلاوت کولو سره رحمت نازلیږي، [د دې په تلاوت کوونکې] فرښتې د وَزرو سورے کوي او سکون پرې نازلیږي. [(3)] ✿ څوک چې سحر د قرآن ختم اوکړي نو تر ماښامه پورې او څوک چې ماښام ختم اوکړي نو تر سحره پورې فرښتې د هغه د پاره د رحمت دُعاګانې کوي. [(4)] ✿ د قیامت په ورځ به قرآن د خپلو

---

[1] ...کنزالعمال، کتاب الاذکار، الباب السابع فی...الخ، جزء:1، جلد:1، صفحہ:257، حدیث:2261۔
[2] ...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء فی من قراء...الخ، صفحہ:676، حدیث:2910۔
[3] ...مسلم، کتاب الذکر والدعا...الخ، باب فضل الاجتماع...الخ، صفحہ:1039، حدیث:2699ماخوذًا۔
[4] ...کنزالعمال، کتاب الاذکار، الباب السابع فی...الخ، جزء:1، جلد:1 صفحہ:261، حدیث:2316۔

لوستونکو د پاره شفاعت کوي. [1] ❁ د قرآن قاري به د قرآنِ کريم تلاوت کوي او د جنَّت درجو ته به خيژي. [2] ❁ څوک چې په ولاړه په نـمونځ کښې د قرآنِ پاک تلاوت اوکړي د هغه د پاره د هر حرف په بدله کښې سل نيکئ دي او څوک چې په ناسته په نـمونځ کښې تلاوت اوکړي د هغه د پاره د هر حرف په بدله کښې 50 نيکئ دي او څوک چې د نـمونځ نه علاوه په اوداسه کښې تلاوت اوکړي د هغه د پاره 25 نيکئ دي او څوک چې بغير د اوداسه نه تلاوت اوکړي د هغه د پاره لس نيکئ دي.[3] ❁ د قرآن قاري د **الله** پاک خاص بنده دے. [4] ❁ د قرآن قاري د اِسلام جنډه نيولو والا دے. [5] ❁ د قرآنِ کريم تِلاوت کوونکے د **الله** پاک د عذاب نه **محفوظ** اوسي. [6] ❁ د قرآنِ کريم تلاوت کوونکے د دې په برکت ترقي کوي او لوئے درجې حاصلوي. [7]

دے شوقِ تلاوت دے ذَوقِ عبادت | رہوں باوُضو میں سدا یاالٰہی!

**الله** پاک دې زمونږ د قرآنِ کريم سره ربنتونے **محبت** نصيب کړي او په دې باندې دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

## د خاتونِ جنَّت حضرت فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھَا ذِکرِ خير

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دريم رَمَضَانُ المُبَارَک د **الله** پاک د آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږې لور، سيدۀ کائنات، حضرت فاطمة الـزهراء، طيبه،

---

[1] ... مسلم، کتاب صلاۃ المسافرین وقصرھا، باب فضل قراءۃ القرآن...الخ، صفحہ:290، حدیث:804۔
[2] ...ابو داود، کتاب الوتر، باب استحباب الترتیل فی القراءۃ، صفحہ:241، حدیث:1464 ماخوذًا۔
[3] ...احیاء العلوم، کتاب آداب تلاوۃ، الباب الثانی فی ظاہر آداب...الخ، جلد:1، صفحہ:362۔
[4] ...کنز العمال، کتاب الاذکار، الباب السابع فی...الخ، جزء:1، جلد:1، صفحہ:258، حدیث:2275۔
[5] ...مسند الفردوس، جلد:2، صفحہ:135، حدیث:2690۔
[6] ...کنز العمال، کتاب الاذکار، الباب السابع فی...الخ، جزء:1، جلد:1، صفحہ:258، حدیث:2267۔
[7] ...کنز العمال، کتاب الاذکار، الباب السابع فی...الخ، جزء:1، جلد:1، صفحہ:259، حدیث:2289۔

طاهِره، عابده، زاهده رضی اللہ عنہا عُرس مبارک دے، راځئ چې په دې مناسبت سره د هغوئې رضی اللہ عنہا څه ذِکرِ خیر واورو. حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم د ټولو کشرۍ او ګرانه شهزادګۍ ده. ✿ د هغوئې ولادت د یو قول مطابق د نبوت د اعلان نه پینځه کاله مخکښې ✿ او د یو قول مطابق د نبوت د اعلان په وړومبي کال په مکه مکرمه کښې شوے وو. [1] د هغوئې نوم مبارک "فاطمه" **اللہ** پاک کیښودو. **په حدیثِ پاک کښې دي:** بے شکه زما د لور نوم **اللہ** پاک فاطمه کیښودو ځکه چې دا **اللہ** پاک د دوزخ نه لرې کړې ده. [2] او په یو بَل **حدیثِ پاک کښې دي:** د دې نوم فاطمه کیښودے شو ځکه چې **اللہ** پاک دا او د دې سره عقیدت لرونکي د دوزخ نه آزاد کړي دي. [3] "بتول" او "زهراء" د هغوئې مشهور لقبونه دي. هغوئې د مسلمانانو د څلورم خلیفه امیر المُؤمِنِین حضرت علي رضی اللہ عنہ کور وداني او د جنّت د ځلمو د سردارانو حسنین کریمین (امام حسن او امام حُسین) رضی اللہ عنہما مور بي بي ده. [4]

د هغوئې رضی اللہ عنہا فضیلتونه ډیر زیات دي. اُمِّ اَیمن رضی اللہ عنہا فرمائي: یوه ورځ ماسپښین زه د حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا کور ته لاړم، دروازه بنده وه او د دننه نه د میچني ګرځیدو آواز راتللو. ما چې دننه اوکتل نو دا منظر زما مخې ته وو چې میچن تاویدله او د حسنینِ کریمین (امام حسن او امامِ حسین رضی اللہ عنہما) ځانګو ځنګیدله، خو حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا د میچني خوا ته آرام فرمائیلو (یعني اوده وه). حضرت اُمِّ

---

1... شرح الزرقانی، المقصد الثانی...الخ، الفصل الثانی فی ذکر...الخ، جلد:4، صفحہ:331 خلاصۃً۔
2... سُبُلُ الہُدیٰ، ابواب فضائل آل رسول، الباب التاسع، جلد:11، صفحہ:52۔
3... کنزُ العُمّال، جزء:12، کتاب الفضائل، فضل اھل البیت، جلد:6، صفحہ:50، حدیث:34222۔
4... الاکمال فی اسماء الرجال، 718، فاطمۃ الکبریٰ، صفحہ:87۔

اَیمن رضی اللہ عنہا فرمائي: دا معامله چې مې اوليده نو زه ډېره حيرانه شوم. زه د نبئ پاک صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم په خدمت کښې حاضره شوم او پوښتنه مې اوکړه چې آخر دا څه معامله ده؟ نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم اوفرمائيل: اے اُمِّ اَیمن! سخته ګرمي ده، روژه ده، فاطمه (رضی اللہ عنہا) روژه نيولې ده، **الله** پاک په **فاطمه** باندې خوب غالب کړو د پاره د دې چې لږ وخت آرام اوکړي او د ګرمئ سخته **محسوس** نه کړي او فرښتې يې راوليږلې چې هغوئې ميچن چلوي او ځانګو ځنګوي. [(1)]

وہ خاتونِ جنّت معصوم حُوریں باندیاں جن کی

مَلَك جنّت سے آکر پیستے تھے چکیاں جن کی

## وصال مبارک

د هغوئې رضی اللہ عنہا وِصَالِ ظاهِري د سرکارِ عالي وقار صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د وصالِ ظاهِري نه شپږ مياشتې پس په دريم رَمَضَانُ الْمُبَارَک په يوولسمه هجرئ اوشو. مزار مبارک يې په جَنَّتُ البقيع کښې دے. [(2)] د هغې رضی اللہ عنہا د سيرتِ مبارکه په باره کښې د نورو معلوماتو حاصلولو دپاره د مکتبةُ المدينه ډېر ښکلے کتاب **شانِ خاتونِ جنت** د مکتبةُ المدينه نه په هديه سره اوغواړئ! يا يې د دعوت اسلامی د ويب سائټ [www.Dawateislami.net](http://www.Dawateislami.net) نه فري ډاؤن لوډ کړئ!

## د اعتکاف يو څو فضائل

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لله! د دعوتِ اسلامی ديني ماحول کښې په ټوله دُنيا کښې په زرګاؤ ځايونو کښې اجتماعی اعتکاف کيږي، **اعتکاف** د ګناهونو نه د بچ کيدو او د رمضان مياشت په نيکو کښې د تيرولو بهترينه ذريعه ده، تاسو هُم د رمضان

---

[1]... سفینۂ نوح، حصہ: دوم، صفحہ: 35۔

[2]... شرح الزرقانی، الفصل الثانی، جلد: 4، صفحہ: 336۔

پوره میاشت یا کم از کم د آخرئ عشرې په اجتماعی اعتکاف کښې شرکت اوکړئ!

❁د الله پاک آخری نبی، مکی مَدَنی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې د الله تعالیٰ د رِضا او خوشنودئ د پاره د یوې ورځې اِعتِکاف اوکړي الله تعالیٰ به د هغه او د جَهنَّم تر مینځه درې خندقه [کندې] رُکاوټ جوړ کړي چې د هر خندق فاصله (یعني لرې والے) به د مَشرِق او د مَغرِب د فاصلې نه هم زیات وي. " (مُعْجَم اَوْسَط ج۵ ص۲۷۹ حدیث۷۳۲۶) ❁اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه رِوایت دے چې د دواړو جهانو سردار خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: "مَنِ اعْتَكَفَ اِیْمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَه مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه" ترجمه: چا چې ایمان سره او د ثواب حاصلو په نِیَّت اِعتِکاف اوکړو د هغه تیر ګناهونه به اُوبخښلے شي." (جامع صغیر ص۵۱۶ حدیث 8480) ❁په یو حدیثِ پاک کښې فرمائیلي دي: چا چې په رمضان المبارك کښې د لسو ورځو اعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه 2 حجونه او 2 عمرې یې چې اوکړې.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطیاتو ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي په ټوله دنیا کښې د نیکئ دعوت عام کوونکے دیني تحریک دے. د الله پاک په فضل سره ❁ دعوتِ اِسلامي د اتیاؤ [80] نه زیاتو شعبو کښې دیني فریضې ترسره کوي ❁ دعوتِ اِسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جوماتونه، په سوونو فیضانِ مدینه (مَدَني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ماشومانو هلکانو او ماشومو جینکو ***(Boys & Girls)*** ته د قرآنِ پاک بیل بیل تعلیم ورکولو د پاره تر اوسه پورې تقریباً 12 زره 699 مدرسة المدینه جوړې کړے شوي دي،

---

[1] ... جَامِع صغیر، صفحه:516، حدیث:8479-

په کومو کښې چې تقریباً 3 لاکه 73 زره 729 ماشومانو هلکانو او ماشومو جینکو ته د قرآنِ کریم د حفظ او ناظرې مفت تعلیم ورکولے شي. (نوټ: په دې رپورټ کښې مدرَسَةُ الْمَدینه شارټ ټائم مدارس هُم شاملې دي) ❀ د عِلم خپرولو (د عالِم او عالِمې کورس کولو) د پاره بیلې بیلې جامعة الـمدینه جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقریباً 1500 جامعة الـمدینه (د هلکانو او جینکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، په کومو کښې چې تقریباً 1 لاکھ24 زره جینکو او هلکانو طالب علمانو ته د درسِ نظامي (د عالِم او عالِـمې کورس) مفت تعلیم ورکولے شي. اوسه پورې تقریباً 31 زره او 211 عالِم او عالِـمه کورس مکمل کړے دے ❀ د شرعي رهنمائۍ د پاره په پاکستان کښې تر اوسه پورې 17 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت قائمې کړے شوي دي، چرته چې مفتیانِ کرام د اُمَّت په شرعي لارښودنه کښې مصروف دي په دې کښې سالانه اوسطاً تقریباً د 1 لاکھ70 زره سوالونو جوابونه (په مختلف انداز کښې مثلًا مخامخ، د فون په ذریعه، د واټس ایپ او اي میل وغیرها په ذریعه) ورکولے شي. او ❀ په الـمدینةُ العلمیه کښې په مختلفو موضوعاتو باندې 932 دیني کتابونه چاپ کړے شوي دي او دا سلسله لا روانه ده ❀ اَلْحَمْدُ لِلّٰه مَدَني چینل په اُردو، انګلش او بنګالۍ ژبو کښې په سیټېلائټ باندې او په ویب باندې عربي چینل هُم د دین په خدمت کښې مصروف دي.

**تاسو هم د دین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده به هر قِسمه جائز، دیني، اصلاحي، فلاحي، روحاني او د خیر ښیګړې په کارونو کښې لګیدے شي.**

**اللّٰه** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

**وَ مَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ لِلّٰهِ مِیْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ**

(پارہ:27، سورۂ حدید:10)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او په تاسو څه شوي چې تاسو د **اللّٰه** په لاره کښې [مال] خرچ نه کړئ حالانکه د آسمانونو او زمکې ټولو وارِث هُم **اللّٰه** دے.

د دې آیت لاندې په تفسیر صراط الـجنان کښې دي: تاسو په کومه وجه باندې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې نه خرچ کوئ حالانکه د آسمانونو او د زمکې هر څه مالک **اللّٰه**

پاک دے هغه همیشه پاتې کیدونکے دے خو تاسو به مړه شئ او ستاسو مال به د هغه په ملکیت کښې پاتې شي او تاسو ته به د نه لګولو په شکل کښې ثواب هم نه میلاویږي، ستاسو د پاره بهتره دا ده چې تاسو خپل مال د **الله** پاک په لاره کښې اولګوئ د پاره د دې چې د دې په بدله کښې ثواب بیاموموئ. [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره مدني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! امیرِ اهلسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اوسني وخت عظیم علمي اور روحاني شخصیت بلکې کامِل ولي دے، هغوئي د هر اتوار په شپه د ماسخُتن د نـمونځ نه پس مدني مذاکره کوي یعني د ټولې دنیا نه عاشقانِ رسول د تفسیر، حدیث، شریعت، طریقت وغیره په مخلتفو موضوعاتو باندې پوښتنې کوي. دا مدني مذاکره عام طور د هر اتوار په شپه د ماسخُتن نمانځه نه پس او خاص د رمضان په میاشت کښې روزانه د مازدیګر د نمانځه نه پس او د تراویح نه پس په مدني چینل باندې نیغ په نیغه (*Live*) ښودلے شي. مدني مذاکره د عقیدې او د اعمالو د اصلاح بهترینه ذریعه ده: ❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې په سوونو کافرانو د مدني مذاکرې د کتلو په برکت کلمه وئیلې ده ❀ په لکونو بے نـمانځه نـمونځ ګزاره جوړ شوي دي ❀ د زرګونو زړونو اِصلاح شوې ده.

تاسو هم په مدني مذاکره کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ❀ عِلمِ دِین به حاصل کړئ ❀ د **الله** پاک محبت به درنصیب کیږي ❀ په عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې به مو زیاتوالے راځي ❀ د ګناهونو نه به نفرت درنصیب کیږي ❀ د نیکئ جذبه به میلاویږي او ❀ په اخلاقو او کردار کښې به هم بهتري راځي.

---

[1]... تفسیر صراط الجنان، پاره:27، سورۂ حدید، زیر آیت:10، جلد:9، صفحہ:721۔

تېول اِسلامي وروڼه هره هفته د ماسخُتن د نـمونځ نه پس په پابندۍ سره د مدني مذاکرې کتلو نيت اوکړئ! که غواړئ نو په کور کښې د خپل کور والؤ سره په مدني چينل باندې په مدني مذاکره کښې شرکت اوکړئ! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رمضان په مياشت کښې روزانه دوه مدنی مذاکرې کيږي. (1): د مازديګر د نمانونځ نپ پس او (2): د تراويح د نمونځ نه پس، تاسو هُم په مدنی چينل باندې پابندۍ سره مدنه مذاکره د کتلو، او اوريدلو کوشش کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير برکتونه به درنصيب شي.

## د ماډرن ځلمي توبه

د منډي بهاؤ الدين (صوبه پنجاب، پاکستان) د اوسيدونـکي يو اسلامي وررور د ليک خلاصه ده چې د دعوتِ اسلامي ماحول ته راتلو نه مخکښې ما د ګناهونو په هلاکوونـکو کندو کښې در په در ټوکرې خوړلې. هر وخت به مې په زړه او دماغو کښې د فيشن خيال وو او د نيکو نه لرې د دنيا په رنګينو کښې مې ژوند بربادولو. يو ځل يو مبلغ د دعوتِ اسلامي زيرانتظام کيدونـکي د آخرۍ عشرې د اجتماعي اعتکاف ډير ښه ترغيب راکړو، د هغې په نتيجه کښې د **اللّٰه** پاک په فضل او کرم سره ما ته د اعتکاف سعادت رانصيب شو، د اجتماعي اعتکاف خوندور ماحول، زړه راښکونـکي بيانونه، د پيشمني او روژه ماتي روحاني نظارې مې ډيرې خوښې شوې، په کرم د پاسه کرم دا چې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه علمي او روحاني **مدني مذاکرو** او د ژړا نه ډکو دُعاګانو مې د زړه نه د ګناهونو زنګ لرې کړو. زما د ګناهونو د تورو تيارو ژوند کښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رڼا خوره شوه. ما د خپلو ګناهونو نه رښتونې توبه اوکړه او د امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مې د بيعت [يعنې د مُريد کيدلو] شرف هُم حاصل کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ګيره مبارکه مې پريښوده، عِمامه مې په سر کړه او د سُنَّتو نه ډک ژوند تيرولو د پاره مې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول اختيار کړو.

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د څينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. [1]

ہر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یارب! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نوم کيښودو سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: د قيامت په ورځ به تاسو په خپلو او ستاسو د پلارانو په نومونو رابللے شئ ځکه خپل ښه نومونه کيږدئ. [3]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د ماشوم دې ښه نوم کيښودے شي د ډيرو خلقو داسې نومونه دي چې څه معنې يې نشته يا د هغې بدې معنې دي د داسې نومونو کيښودو نه ډډه اوکړئ ❁ د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام او د صحابهٔ کرامو او تابعينو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په نومونو باندې نومونه کيښودل بهتره خبره ده، اُمِيد دے چې د هغوئې برکت به په ماشوم کښې کيښودے شي ❁ که ماشوم ژوندے پيدا شي او که مړ، که د هغه بدن پوره وي او که نه، بهر حال د هغه نوم

1... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2... وسائل بخشش، صفحہ:115۔
3... ابو داؤد، کتاب الادب، باب: فی تغییر الاسماء، صفحہ:775، حدیث:4948۔

دې کېښودے شي ❁په حديثِ پاک کښې دي: د ګَچه ماشوم (يعنې چې څه اندام يې جوړ شي يا د ځلورو مياشتو [حمل] وي د هغه) نوم کېږدئ چې الله پاک به د دې په ذريعه باندې ستاسو د عمل تَله درَنه کړي ❁جبريل يا ميکائيل وغيره نوم مه ږدئ ❁ياسين يا طٰهٰ نوم کېښودل منع دي ❁محمد ياسين نوم هم مه ږدئ، آؤ که اوغواړئ نو غُلام ياسين او غلام طٰهٰ نوم کېږدئ ❁کوم نومونه چې غلط وي هغه بدلول پکار دي او ښه نوم کېښودل پکار دي ځکه چې د خپل اُمَّت سره محبت کوونکي خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به غلط نومونه په ښو نومونو باندې بدلول. د يوې زنانه نوم عاصِيَه (يعنې ګنهګاره) وو، رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې نوم بدل کړو او جميله يې کېښودو ❁داسې نومونه کېښودل جائز نه دي کوم چې د غير مسلمو د پاره خاص وي ❁ غُلامِ رسول، غُلامِ صديق، غُلامِ حسين، غُلامِ غوث، غُلامِ رضا نوم کېښودل جائز دي. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د بهارِ شريعت جلد نمبر 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سُنّتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]...550 سنّتیں اور آداب، صفحہ:63-68 ملتقطاً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې ځوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره ڪم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

### ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

**صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ**

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ**

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵